مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریزی ۲۰۲۳/۰۷/۳۱

# نړیوالي ټولنې

## ۶۸ برخه

**هغه ټولنې چې ځانګړې واکونه لرې**

**۱۷ -- د ژورنالستانو نړیوال فدراسیون:International Federation of Journalists (IFJ)**

IFJ په کال ۱۹۲۶ په فرانسه کې جوړ شو. دا جوړیدن په ۱۹۴۶ او ۱۹۵۲ کلونو کې بیا – بیا نوي شوي دي. اوس (کال ۲۰۲۰) IFJ د نړۍ په څه باندې سلو هیوادونو کې نږدې ۶۰۰۰۰۰ استازي لري.

اهداف:

- د بیان ازادۍ او د رسنیو او خبریالانو د حقونو ننګه،
- IFJ له هېڅ سیاسي ملحوظ پرته د بشري حقونو او ولسواکۍ ملاتړ کوي،
- IFJ د تبعیض او توکمیزو چلندونو او له رسنیو څخه د تاوتریخوالي د تبلیغاتي وسیلې په توګه، د کار اخیستو ډېر مخالف دي،
- IFJ د هر ډول سیاسي او کلتوري ازادۍ غوښتونکې دی او د بشري حقونو او سوداګریزو ټولنو ملاتړ کوي،
- IFJ د ملګرو ملتونو د کړنلارې او نړیوالو قوانینو له مخې، د خبریالانو استازیتوب کوي،
- IFJ د ژورنالیستانو د ټولنو ملاتړ کوي او د همدې له پاره یې د نړیوال خوندیتوب په نامه، د مرستې صندوق جوړ کړی دی. .[1]

جوړښت: د IFJ یو شمېر څانګې دا دي:

د وژل شویو ژورنالستانو د څار نړیواله ډله:دا ډله له کال ۱۹۹۰ څخه راپدیخوا، د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د وژل شویو خبریالانو په اړه معلومات او حقایق ټولوي او خپروي او د ازادو خبریالانو او سیمه ییزو رسنیو د خوندیتوب له پاره کمپاین کوي.

د ژورنالستانو د خوندیتوب صندوق:د ا صندوق چې د کال ۱۹۹۲ په جنورۍ کې جوړ شوی، په خپل ډول کې له ژورنالستانو سره د مرستې لومړنی صندوق دی، چې د ژورنالستانو له خوا جوړ شوي او له خبریالانو سره مرسته کوي.

د خبریالانو د خوندیتوب نړیوال انستیتوت :دا انستیتوت د رسنیو د ملاتړ او دفاع د څه باندې ۱۰۰ ټولنو په زیار، په کال ۲۰۰۳ کې جوړ شو چې هدف یې د خبریالانو خوندیتوب، د خبریالانو څخه دفاع او له هغوی سره د بد چلند او تاوتریخوالي پر ضد مبارزه ده. نوموړی انستیتوت د خبریالانو د خوندیتوب مسلکي معیارونه ته هم وده ورکوي[2].

مقر: د IFJ مرکزي دفتر په بروکسل (بلجیم) کې دي. رسمي ژبه یې انګلیسي، فرانسوي او اسپانوي دي او لګښتونه یې نړیواله ټولنه ورکوي. فدراسیون د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې دفترونه او استازي لري او تل د رسنیو او خبریالانو په ننګه غږ اوچتوي.[3]

**۱۸ -- د بشري حقونو د څار ډلهHuman Rights Watch (HRW)**

د بشري حقونو د څار ډلې په کال ۱۹۷۸ کې، د (هلسنګي څارډلې) په نامه، فعالیت پیل کړی دی. په اصل کې دا یوه نړیواله او غیرانتفاعي ټولنه ده چې د بشري حقونو څخه د دفاع کوي او په دې اړه څېړنې کوي.

د اروپا د امنیت او همکارۍ وروستی کنفرانس د کال ۱۹۷۵ د جولای او اګست په میاشتو کې، په هلسنګي (فنلند) کې جوړ شو چې د امریکا د متحدو ایالاتو او ټولو اروپایي هیوادونو په ګډون، ۳۵ پلاوو پکې برخه اخیستي وه. دي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ناستو هڅه کوله چې د لویدیځ او کمونیست بلاک تر منځ اړیکي ښې او پراخه کړي او د حکومتونو په اړه د خلکو شکایتونه واوري.
اهداف: HRW له نژدې دېرشو کلونو څخه راپدیخوا، په نړۍ کې د عدالت د راوستو او د بشري حقونو د دفاع لهپ اره، په ځانګړي توګه په هغه ځایونو کې چې بشري حقونو ته پاملرنه نه کېږي فعالیت لري. له قربانیانو او د بشري حقونو له فعالینو سره د تبعیض په وړاندې اوږه په اوږه دربېدل، د سیاسي ازادیو غوښتنه، په جګړو کې د بشري حقونو د خوندیتابه له پاره هلې ځلې او محکمې ته د سرغړونکو پېژندنه، د HRW له غټو اهدافو څخه دی. HRW د بشري حقونو د سرغړوني په برخه کېهم پلټني کوي او حکومتونه او چارواکو ته ګوتې څنډي چې د بشري حقونو په وړاندې تاوتریخوالی پای ته ورسوي او هغه خلک او نړیوالېټ ولني ستایي چې د بشري حقونو د ملاتړ په برخه کې، زیار باسي او خپلو اهدافو ته د رسېدو له پاره، له رسنیو او د بشري حقونو د ملاتړ له سیمه ییزو ټولنوڅخه کار اخلي او هر کال څه باندې ۱۰۰ رپوټونه خپروي چې په نړیواله کچه د بشري حقونو په حالت څرخي او له حکومتونو، ملګرو ملتونو، افریقایي او اروپاییټولنو، مالي بنسټونو او هغه ټولنو سره، چې له بشري حقونو د دفاع له پاره کار کوي په اړیکو کې دي.
مالي سرچینې: HRW د یوې نړیوالې ناحکومتي ټولنې په توګه، یوازې له افرادو، شرکتونو او خصوصي ټولنو څخه مرسته اخلي. د نیوګیټر خیریه ټولنه، د پرانیستې ټولنې انستیتوت، د فورد بنسټ او د جورج سورس په شان شتمن خلک د HRW اصلي مرستندویان بلل کېږي.
جوړښت: HRW شاوخوا ۲۷۵ مسلکي کارکوونکي لري چې د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو څخه غوره شوي او ټول د بشري حقونو فعالان، قانونپوهان، خبریالان او د نورو څانګو متخصصین
دي .دا ډله اوس په۹۰هیوادونو کی فعاله ده.
مقر: د HRW مرکزي دفتر په نیویارک (امریکا متحده ایالات) کې دی؛ خو د نړۍ په نورو ښارونو (برلین، بروکسل، بیروت، شیکاګو، ژنیو، جوهانسبورګ، لندن، لاس انجلس، مسکو، پاریس، سان فرانسیسکو، توکیو، تورنتو او واشنګټن) کې هم دفترونه او څانګې لري. عربي، فرانسوي، هالندي او انګلیسي د HRW رسمي ژبې دي.[4]

---

[1] www.ifj.org
[2] www.ifj.org
[3] .www.ifj.org
[4] google.com/ search


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ